# د تِلاوَتِ قرآن

# شوق لرونکي

10-March-2022



هفته وراه د سُنّتو ډکه اِجتِماع کښي کیدونکے

د سُنّتو ډک بیان

(For Islamic Brothers)

د 10 مارچ 2022ء د هفته وارې اجتماع بيان

# د تِلاوَتِ قرآن شوق لرونکي

پيشکش

اَلْمَدِيْنَةُ الْعِلْمِيَة (اسلامک ريسرچ سنټر)

(شعبهٔ بياناتِ دعوتِ اسلامې)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ؕ

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ الله     وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ الله

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ الله     وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ الله

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَافِ (**ترجمه:** ما د سُنَّتِ اعتكاف نِيَّت اوکړو)

**مُحترمو اسلامي ورونړو!** چې كله جُمات ته داخل شئ، چې ياد مو وي نو د اِعتِكاف نِيَّت كوئ، تر څو چې جُمات كښې ئې نو د اِعتِكاف ثواب به مو كيږي.

ياد ساتئ! جُمات كښې د خوراك څښاك، اُوده كيدو يا پيشمني او روژه ماتي كولو، تر دې چې د آبِ زَم زَم يا دَم كړو اوبو څښلو هُم شرعاً اجازت نشته، البته كه د اعتكاف نِيَّت مو كړے وي نو دا ټول كارونه به ضِمناً جائز شي.

## د دُرُود شريف فضيلت

حضرت شيخ اَبُو الحَسَن **شَعْرانِى** رَحْمَةُ اللهِ عَلَيه فرمائي: حضرت **مَنْصُور** بِن عَمَّار رَحْمَةُ اللهِ عَلَيه د وفات نه پس ما په خوب كښې اوليدلو، تپوس مې ترينه اوكړو: **مَا فَعَلَ اللّٰهُ بِكَ** يعني **الله** پاك تاسو سره څه مُعامَله اوكړه؟ اوئې فرمائيل: زما ربّ كريم ما ته اوفرمائيل: ته **مَنْصُور** بِن عَمَّار ئې؟ ما عرض اوكړو: آؤ، **يَا رَبَّ الْعٰلَمِيْن!** بيا **الله** پاك اوفرمائيل: هم ته وې چې په دُنيا كښې به دې خلقو ته د دُنيا نه د بےرغبتئ ترغيب وركولو او پخپله دُنيا طرف ته مائل وې؟ ما عرض اوكړو: يا **الله** پاكه! واقعي خبره خو هم دا ده خو چې كله به ما په اجتماع كښې بيان شروع كولو نو اوَّل به مې ستا حمد و ثنا كوله، د هغې نه پس به مې ستا په خوږ حبيب صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې دُرُود

شريف لوستلو، بيا د هغې نه پس به مې ستا بندګانو ته وعظ او نصيحت کولو. زما په دې عرض د **الله** پاک رحمت په جوش کښې راغے او ارشاد ئې اوفرمائيلو: اے فرښتو! د ده د پاره اسمان کښې کرسۍ کيږدئ لکه څنګه چې به ده زما په زمکه زما بندګانو ته زما بُزُرګي بيانوله، چې هغه شان زما په اسمانونو کښې زما فرښتو ته زما عظمَت بيان کړي.[1]

## د بيان اوريدلو نيتونه

**مُحترمو اسلامي ورونړو!** د ثواب حاصلولو د پاره د بيان اوريدلو نه مخکښې ښه ښه نِيَّتونه کوو: **فرمَانِ مُصطَفٰے** صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: "**اَفْضَلُ الْعَمَلِ اَلنِّيَّةُ الصَّادِقَةُ**" رښتينے نيت بهترين عبادت دے. (2)

**اے عاشقانِ رسول!** نيك او جائز کار کښې چې څومره ښه نِيَّتونه زيات وي هغه همره به ثواب هُم زيات کيږي.

❁ د عِلمِ دِين حاصلولو نِيَّت اوکړئ او ❁نور دا نيتونه اوکړئ چې نظر به ښکته ساتم او ښه په غورسره به بيان اورم. ❁ چې څومره کيدے شي د ډِډه وهلو په ځائے به د عِلمِ دِين د تعظيم [يعني ادب] په نِيَّت د **اَلتَّحِيَّات** په شکل کښې کښينم ❁ د علم زده کولو د پاره به پورا بيان اورم ❁د بيان په دوران کښې به د سُستۍ نه ځان بچ ساتم ❁ د خپلې اصلاح د پاره به بيان اورم ❁ څه چې واورم نورو ته به ئې د رَسَولو کوشش کووم.

---

1...رساله قشيريه، صفحه:48۔

2...جامع صغير، صفحه:81، حديث:1284۔

# د الله پاك اِنعام يافته بندګان

حضرت علـي بِن صالِح او حضرت حَسَن بِن صالِح رَحْمَةُ اللهِ عَلَيهِما دوارہ وروڼه وو، د دوئي د کور خلق د قُرآن د تِلاوَت شوقين وو، د دوئي په کور کښې به هره ورځ د قرآنِ کريم يو ختم کيدلو، انداز ئې دا وو چې دې دوارو وروڼو او د دوئي مور به تلاوت کولو، يوه حِصَّه قُرآنِ پاك به حضرت علـي بِن صالِح رَحْمَةُ اللهِ عَلَيه تلاوت کولو، يوه حِصَّه قُرآنِ پاك به د دوئي ورور حضرت حَسَن بِن صالِح رَحْمَةُ اللهِ عَلَيه تِلاوت کولو او يوه حِصَّه قُرآنِ پاك به ئې مور بي بي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيهَا تلاوت کولو، دغه شان به هره شپه د يو قُرآنِ پاك ختم کيدلو. څه موده پس د هغوئي مور بي بي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيهَا وفات شوه، نو يو کس کم شو، خو د دې باوُجود هغوئي د قرآنِ کريم په تلاوت کښې کمے رانوستلو. دوارو وروڼو به په شريکه د خپلې مور کمے پوره کولو او دوارو د نيم نيم قرآنِ پاك تلاوت معمول جوړ کړو، دغسې هره ورځ د يو قرآنِ کريم ختم کولو سلسله جاري وه. څه موده پس حضرت علـي بِن صالِح رَحْمَةُ اللهِ عَلَيه هم وفات شو، بيا حضرت حَسَن بِن صالِح رَحْمَةُ اللهِ عَلَيه يواځې پاتې شو خو د هغوئي د قرآن د تلاوت د شوق نه قربان شم! هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيه په تِلاوت کښې کمے رانوستلو، بيا به حضرت حَسَن بِن صالِح رَحْمَةُ اللهِ عَلَيه يواځې د خپلې مور او د ورور د حِصّې تلاوت هم کولو، يعني هره ورځ به ئې يواځې د قرآنِ کريم پوره ختم کولو.

د حضرت علـي بِن صالِح رَحْمَةُ اللهِ عَلَيه د يو نِزدې ملګري بيان دے: په کومه شپه چې حضرت علـي بِن صالِح رَحْمَةُ اللهِ عَلَيه وفات شو، زه هغوئي سره ووم، هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيه زما نه اوبه اوغوښتلې، ما هغه وخت لمُونځ کولو، ځکه ما زر اوبه ورإندې نکړے شوې، چې لمَونځ مې اوکړو نو ما په ډيره تادئ اوبه ورو وړې نو حضرت علـي بِن صالِح رَحْمَةُ اللهِ عَلَيه اوفرمائيل: ما اوس اوبه اوڅښلې، زه ډير حيران شوم چې زما نه

علاوه خو دلته بل څوك نشته، بيا ورله اوبه چا راوړې؟ ما حضرت علـي بِن صالِح رحمۃُ اللہِ علیہ ته د خپلې حيرانتيا ذِكر اوكړو نو اوئې فرمائيل: د **اللّٰه** پاك په رحمت سره اوس اوس جبريلِ امين علیہِ السّلام په ما اوبه اوڅښلې او اوئې فرمائيل: انبياء، صِدِّيقِين، شُهداء او صالحين (يعني نيك بندګان) هغه خلق دي، په كومو چې **اللّٰه** پاك اِنعام فرمائيلے دے، (اے علـي بِن صالِح) واوره ...! ته، ستا ورور او ستاسو مور بې بې هم په دې نيكو خلقو [صالِحِينو] كښې شامل ئې په كومو چې د **اللّٰه** پاك اِنعام دے.

هغه كس وائي چې دا د حضرت علـي بِن صالِح رحمۃُ اللہِ علیہ آخري خبرې وې، د دې سره د هغوئي نه روح لاړو.[1] **د اللّٰه پاک دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بے حِسابه بخښنه اوشي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صلَّی اللہ علیہِ واٰلہٖ وسلَّم**

**اے عاشِقانِ رسول!** تاسو واوريدل! حضرت علـي بِن صالِح رحمۃُ اللہِ علیہ د هغوئي ورور او مور بې بې د قرآن پاک د تِلاوت څومره شوق لرلو چې د هغوئي په كور كښې به هره ورځ د قرآنِ كريم يو ختم كيدلو، دې نيک بختو انسانانو ته د قرآن د تِلاوت د شوق څومره ښائسته انعام ميلاؤ شو چې حضرت علـي بِن صالِح رحمۃُ اللہِ علیہ ته د وفات نه مخكښې په دُنيا كښې د فرښتو د سردار حضرت جبريلِ اَمِين علیہِ السّلام ديدار نصيب شو او حضرت جبريلِ اَمِين علیہِ السّلام په هغوئي اوبه اوڅښلې او هغوئي ته ئې د **اللّٰه** پاك د نيك او اِنعام يافته بنده كيدلو زيرے واورولو.

**اللّٰه** پاك دِ مونږ له هم د قرآنِ پاک د زيات تِلاوت توفيق راكړي- كاش! چې مدينه منوره كښې د حضور صَلَّی اللہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د مزارِ مُنَوَّر مخې ته، د شين ګنبد د لاندې د قرآنِ

---

[1] …صفة الصفوة، جزء:3، جلد:2، صفحه:100و101بتغيرقليل۔

پاک تِلاوت کولو کولو کښې، دُرود شريف وئيلو وئيلو کښې، د نعتونو نذرانے وړاندې کولو کولو کښې، ښه او قابلِ رَشک مرګ رانصيب شي- اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## آيا جبريلِ اَمِين عَلَيْهِ السَّلَام زمکې ته تشريف راوړي؟

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! بعضې خلق دا ګمان کوي چې، ولې چې حضرت جبريلِ اَمِين عَلَيْهِ السَّلَام به انبيائے کرامو عَلَيْهِمُ السَّلَام ته وحي راوړله او اوس نَبُوَّت ختم شوے دے، ځکه حضرت جبريلِ اَمِين عَلَيْهِ السَّلَام زمکې ته نه راځي.

نو دا صرف عوامي خيال دے، ياد ساتئ چې بے شکه د نَبُوَّت دروازه بنده شوې ده، زمونږ د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه پس حضرت جبريلِ اَمِين عَلَيْهِ السَّلَام وحي نه راوړي البته د وحي راوړلو نه علاوه د بل يو مقصد د پاره اوس هم زمکې ته تشريف راوړي. په ديرشمه سيپاره، سورۂ قَدْر کښې الله پاك ارشاد فرمائي:

تَنَزَّلُ الْمَلٰٓىٕكَةُ وَ الرُّوْحُ فِيْهَا بِاِذْنِ رَبِّهِمْۚ مِنْ كُلِّ اَمْرٍۛ۝۴

(پاره:30، سورۂ قدر، آيت:4)

[مَفهوم] ترجمۂ کنزالايمان: په دې شپه کښې فرښتے او جبريل د خپل ربّ په حکم د هر کار د پاره کوزيږي.

د دې آيت نه صفا معلومه شوه چې شبِ قدر کومه چې هر کال راځي، په هغه شپه حضرت جبريلِ اَمِين عَلَيْهِ السَّلَام زمکې ته تشريف راوړي. په مِرْقَاةُ الْمَفَاتِيح کښې دي: اِنَّ جِبْرَائِيلَ يَحْضُرُ مَوْتَ كُلِّ مُؤْمِنٍ يَكُوْنُ عَلٰى طَهَارَةٍ بيشکه هر مُومِن چې د اوداسه په حالت کښې مړ کيږي، د ځنکدن په وخت کښې د هغه خوا ته حضرت جبريلِ اَمِين عَلَيْهِ السَّلَام تشريف راوړي.[1]

---

[1] ...مرقاۃ شرح مشکوٰۃ، جلد:10، صفحه:132۔

# د تِلاوت د شوق، قابِلِ رَشك اِنعام

حضرت ثابِت بُناني رَحْمَةُ الله عَلَيه ډېر نيك، پرهيزګاره بنده وو، هغوئي رَحْمَةُ الله عَلَيه به هميشه د ورځې روژه نيوله او ټوله شپه به ئې عبادت کولو، حضرت ثابت بُناني رَحْمَةُ الله عَلَيه د قرآن پاک د تلاوت ډېر شوق لرلو، هره ورځ به ئې د قُرآنِ پاك يو ختم کولو.[1] د هغوئي رَحْمَةُ الله عَلَيه يو ښکلے عادت دا هم وو چې هغوئي به د کوم جُمات په خوا تيريدلو په هغې کښې به ئې دوه رکعاته (تَحِيَّةُ الْمَسْجِد) ضرور ادا کول. د تحديثِ نعمت په طور فرمائي: ما د جامِع مسجد د هرې ستنې خوا ته د قُرآنِ پاك ختم کړے دے او د الله پاك په بارګاه کښې مې ژړا فرياد کړے دے.[2]

د حضرت ثابِت بُناني رَحْمَةُ الله عَلَيه د لمَانځه او تِلاوَت سره خاص مينه وه. د دې په برکت په هغوئيرَحْمَةُ الله عَلَيه د الله پاك داسې کرم اوشو چې د رشك قابِل دے- د وفات کيدو وروستو د خخولو په وخت کښې يوه خښته اوښوئيده اوقَبْر ته دننه پريوتله، خلق چې کله د خښتې اوچتولو د پاره ور ښکته شو نو حيران شو چې هغوئي رَحْمَةُ الله عَلَيه په قَبْر کښې ولاړ وو او لمُونځ ئې کولو! د هغوئي رَحْمَةُ الله عَلَيه د کور د کسانو نه چه معلومات اوکړے شو نو لور صاحبې ئې اووئيل چې والِدِ مُحترم رَحْمَةُ الله عَلَيه به هره ورځ دا دُعا کوله: يا الله پاکه! که ته چا ته د وفات نه پس په قَبْر کښې د لـمانځه کولو سعادت ورکوې نو ما ته هُم دا شَرف راعطا کړې." [3] منقول دي: چې کله به هُم خلق د هغوئي رَحْمَةُ الله عَلَيه د مزار مُبارك په خوا تيريدل نو د قَبْر مبارك نه به ئې د قُرآنِ پاك د تِلاوت آواز راتللو.[4]

---

1 ...حلية الاولياء، جلد:2، رقم:2575، صفحه:364۔

2 ...حلية الاولياء، جلد:2، رقم:2577، صفحه:364۔

3 ...حلية الاولياء، جلد:2، رقم:2568، صفحه:362۔

4 ...حلية الاولياء، جلد:2، رقم:2583، صفحه:366۔

## قُرآن لوله! او د جَنَّت په درجو بره خيژه...!

اے عاشِقانِ رسول! تاسو د قرآن د تِلاوت بركت اوليدلو! اَلْحَمْدُ لِلّٰه! قُرآنِ مجيد وَفادار دے، زمونږه خپلولي، تعلقات، ملګرتيا دا ټول د قبر پورې وي، ځنګه چې د بدن نه روح جدا شي او مړے قبر ته كوز شي نو ټول خلق ورسره خپلوئ او ملګرتيا پريږدي.

اَلْحَمْدُ لِلّٰه! قُرآنِ مجيد وَفا كوي، څوک چې د قرآنِ كريم سره خپل تَعَلُّق جوړ ساتي، د قرآنِ كريم سره د مينې مضبوطه رشته قائمه ساتي، قرآنِ كريم خپل هادي او رهنما جوړوي نو قرآنِ كريم د قبر په ځانګړتيا كښې د هغه ملګرتيا كوي، د حشر په سخته ويره كښې ئې هم مرسته كوي، چرته په يو ځائے كښې ئې هم يواځې نه پريږدي، تر دې پورې چې تلاوت كوونكے جَنَّت ته رَسَوي. د صحابئ رَسُول حضرت ابُوهُرَيره رضی اللہ عنہ نه روايت دے چې خوږ نبي صلَّی اللہ علیہ والہٖ وسلَّم فرمائيلي دي: قرآنِ كريم به د قيامت په ورځ تشريف راوړي او د تِلاوت كوونكي په سفارش كښې به د اللّٰه پاك په بارګاه كښې عرض اوكړي: اے رَبِّ كريمه! ده ته ښائست وركړې، نو تِلاوت كوونكي ته به د كرامت تاج په سر كړے شي. قرآنِ كريم به اووائي: يَا رَبِّ زِدْهُ اِلٰهي! نور ئې زيات كړې. نو تِلاوت كوونكي ته به د كرامت لباس واغوستلے شي، قرآنِ كريم به اووائي: يَارَبِّ اِرْضَ عَنْهُ اے ربّ كريم! د دې بنده نه رضا شې. اللّٰه پاك به د هغه نه رضا شي او حكم به اوشي: اے بنده! قرآنِ كريم لوله او د جنَّت په درجو پورته خيژه.[1]

---

[1] ...شُعَبُ الايمان، جلد:2، صفحه:347، حديث:1997ملتقطاً۔

# د قيامت په ورځ په تِلاوت كوونكي كرَم

په يو حديثِ پاك كښې دي، د **اللّٰه** پاك آخري نبـي، رسُولِ هاشِمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: كوم بنده چې په ورځ او شپه كښې د قرآنِ كريم تِلاوت كوي، د قرآنِ كريم حلال، حلال او حرام، حرام ګڼړي، **اللّٰه** پاك فرښتے د هغه ملګرې جوړې كړي. چې كله د قيامت ورځ شي، قرآنِ كريم به د دغه بنده د پاره د **اللّٰه** پاك په بارګاه كښې دليلونه وركوي، قرآن به وائي: اے رَبِّ كريم! هر انسان به په دُنيا كښې د خپل كار مزدوري اخستله خو فُلاني كس به ورځ او شپه زما تِلاوت كولو، زما حلال به ئې حلال او حرام به ئې حرام ګڼړل، اے رَبَّه! نن ده ته اجر وركړې. د قرآنِ كريم په خواست به هغه بنده ته شاهي تاج او د كرامت لباس واغوستلے شي. بيا به **اللّٰه** پاك قرآنِ كريم ته وائي: هَلْ رَضَيْتَ؟ (اے قرآنه) آيا ته رضا ئې؟ قرآنِ كريم به اووائي: يا **ربّ!** د دې نه هم ښه اجر وركړې. بيا به دغه بنده ته بادشاهت او جنَّت عطا كړے شي. بيا به قرآنِ كريم ته اووئيلے شي: هَلْ رَضَيْتَ؟ (اے قرآن) آيا اوس رضا ئې؟ قرآنِ كريم به اووائي: آؤ، ياربّ! (اوس زه رضا يم).[1]

# قُرآنِ كريم د اللّٰه پاك مضبوطه رسۍ ده

د مسلمانانو خلورم خليفه اَمِيْرُ الْمُؤْمِنِيْن، حضرت عَلِـيُّ الْمُرتَضٰى رَضِیَ اللهُ عَنْه نه روايت دے چې نبـي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: زر ده چې فتنے به وي. ما عرض اوكړو: يَـا رَسُولَ الـلّٰـه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! د دې نه د بچ كيدو څه طريقه ده؟ اوئې فرمائيل: د **اللّٰه** پاك كتاب (يعني قرآنِ كريم). بيا ئې اوفرمائيل: په قرآنِ كريم

---

1 ...شُعَبُ الايمان، جلد:2، صفحه:345، حديث:1991۔

كښې ستاسو د مخكښينو او وروستنو خلقو ذِكر دے، په قرآنِ كريم كښې ستاسو د خپل مينځ فيصلے دي، كوم ظالم چې قُرآن كريم پريږدي، **اللّٰه** پاك به هغه تباه كړي، او څوك چې د قرآنِ كريم نه علاوه چرته بل ځائے هدايت لټوي، **اللّٰه** پاك به هغه ګمراه كړي، قرآنِ كريم د **اللّٰه** پاك مضبوطه رسئ ده، قرآنِ كريم د حكمت ذِكر دے، قرآنِ كريم نيغه لاره ده، د قرآنِ كريم له بركته خواهشات ختميږي، د قرآنِ كريم عجائبات نه ختميږي، څوك چې د قرآنِ كريم مطابق خبره كوي، هغه رِښتونے دے، چا چې په قرآنِ كريم عمل اوكړو، هغه به ثواب مومي، څوك چې د قرآنِ كريم مطابق فيصله اوكړي، هغه اِنصاف كوونكے دے او څوك چې قرآنِ كريم طرف ته رابلل كوي، هغه به ضرور نيغې لارې طرف ته بللو والا وي. [1]

صحابئ رسول حضرت عبدُاللّٰه بِن مسعُود رضی اللہ عنہ فرمائي: بيشكه دا قرآن د **اللّٰه** پاك دعوت دے، د **اللّٰه** پاك دعوت چې څومره كيدے شي زده ئې كړئ! بے شكه دا قرآنِ كريم د **اللّٰه** پاك مضبوطه رسئ ده، څوك چې قرآنِ كريم مضبوط اونيسي، قرآنِ كريم د هغه د پاره حفاظت دے، څوك چې د قرآنِ كريم په لار روان شي نو قرآنِ كريم د هغه د پاره د نجات ذريعه ده. [2]

اے عاشِقانِ رسول! اوګورئ! قرآنِ كريم د **اللّٰه** پاك مضبوطه رسئ ده، څوك چې دا رسئ مضبوطه اونيسي، د قرآنِ كريم سره پوره تړون اوساتي، قرآنِ مجيد د زړه د اخلاصه خپل كړي، شپه او ورځ په شوق سره تلاوت خپل معمول جوړ كړي نو اِنْ شَآءَ

[1] ...ترمذی، کتاب فضائل القرآن، باب:ماجاء فی فضل القرآن، صفحه:675، حديث:2906۔
[2] ...تنبيه الغافلين، صفحه:238۔

اللهُ الْكَرِیم! قرآنِ كريم به په دُنیا، قبر، میدانِ حشر، په میزان او پُل صِراط هر ځائے كښې د ده حِفاظت كوي او كه الله پاك اوغواړي نو جَنَّت ته به ئې اورسوي.

## الله پاك هغه زړه ته عذاب نه وركوي

د حضرت ابُو اُمَامه رضی اللہ عنہ نه روايت دے چې د الله پاك آخري نبي صلّی اللہ علیہ والہٖ وسلّم فرمائيلي دي:قُرآن لولئ! بے شكه كوم زړه چې د قرآنِ كريم غِلاف وي، الله پاك هغه زړه له عذاب نه وركوي.[1]

## د قُرآنِ مجيد په نورو كتابونو فضيلت

د حضرت ابُو سعيد خُدري رضی اللہ عنہ نه روايت دے چې د الله پاك محبوب نبي صلّی اللہ علیہ والہٖ وسلّم فرمائي: الله پاك فرمائي: كوم بنده چې د قرآن د تِلاوت او زما په ذِكر كښې د مصروفه كيدو په وجه زما نه څه اونه غوښتلے شي، نو زه هغه ته د هغه خلقو نه زيات غوره عطا كووم كوم چې زما نه سوال كوي.

رسولِ اكرَم صلّی اللہ علیہ والہٖ وسلّم فرمائي: څنګه چې الله پاك د خپل ټول مخلوق نه افضل دے، دغسې د الله پاك كلام هم په ټولو كلامونو كښې افضل او اعلٰى دے.[2]

## د قُرآن تِلاوَت افضل ترين عبادت دے

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! غور اوكړئ! د قرآن شريف د تِلاوت څنګه څنګه فضائل دي. كاش چې مونږ ته هم د قرآنِ پاک د تِلاوت كولو شوق رانصيب شي. زمونږ

---

1 ...جامع صغير، صفحه:83، حديث:1340۔

2 ...ترمذی، كتاب فضائل القرآن، صفحه:679، حديث:2926۔

خوږ نبـي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: اَفْضَلُ عِبَادَةِ اُمَّتِیْ قِرَاءَةُ الْقُرْآنِ قرآنِ کريم زما د اُمَّت افضل ترين عبادت دے.[1]

صحابئ رسول حضرت عبدُ الله بِن مسعُود رَضِیَ اللهُ عَنْه هم عاشِقِ قرآن وو، يو ځل د هغوئي په خدمت کښې عرض اوکړے شو: تاسو نفلـي روژے لږې نيسئ، د دې څه وجه ده؟ اوئې فرمائيل: زه چې کله روژه نيسم نو کمزوري راځي بيا زه د قرآن تِلاوت نه شم کولے او زه د قرآن د تِلاوت سره مينه کووم.[2]

## د الله پاك نزديکت عطا کوونکي نيکي

حضرت فَروه بِن نَوفَل رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: زه د حضرت خَبَّاب بِن اَرَتِّ رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ګاوندې ووم، يوه ورځ زه د هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه سره جمات طرف ته اووتم، هغوئي زما لاس اونيولو، اوئې فرمائيل: اے انسانه! چې څومره کيدے شي د الله پاك قُرب حاصل کړه! بيا ئې پخپله اوفرمائيل: د الله پاك د قُرب حاصلولو د ټولو نه غوره ذريعه د هغه کلام (يعني قرآنِ مجيد) دے.[3]

## که چرې خوب کښې د الله پاک ديدن نصيب شي نو بيا----

حضرت اِمام احمد بِن حنبل رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: ما ته په خوب کښې د الله پاك ديدن نصيب شو: (په دې دُنيا کښې د الله پاك ديدن په خوب کښې خو کيدے شي خو په دې دُنيا کښې په غړيدلو سترګو د الله پاك ديدن کول زمونږ د خوږ آقا، مکي مَدَني مصطفٰی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

1 … شُعَبُ الايمان، جلد:2، صفحه:354، حديث:2022۔
2 … شُعَبُ الايمان، جلد:2، صفحه:354، حديث:2018۔
3 … شُعَبُ الايمان، جلد:2، صفحه:354، حديث:2020۔

وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره خاص دے، آؤ! په آخرت کښې به اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِيْم! هر جنَّتـي ته د **اللّٰه** پاك ديدن نصيب کيږي، خير اِمام احمد بِن حنبل رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه ته [په خوب کښې] د **اللّٰه** پاك ديدن نصيب شو، هغوئي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فرمائي:) ما عرض اوکړو: اے رَبِّ کريمه! ستا په نِزد کوم عمل غوره دے؟ چې د هغې په ذريعه خلق تاته نزدې کيږي؟ **اللّٰه** پاك اوفرمائيل: اے احمد! هغه زما پاك کلام (قرآنِ مجيد) دے، ما عرض اوکړو: اے **اللّٰه** پاکه! چې په دې باندې د پوهيدلو سره ئې اولولي يا بے پوهه؟ اوئې فرمائيل: که [څوک ئې] پوهيدلو سره اولولي او که نه پوهيدلو سره (په دواړو صورتونو کښې فضيلت دے).[1]

اے عاشِقانِ رسول! معلومه شوه چې ❀ تِلاوتِ قرآن غوره نيکي ده ❀ د تِلاوتِ قرآن په برکت د **اللّٰه** پاك قُرب نصيب کيږي ❀ د تِلاوت کوونکي نه **اللّٰه** پاك رضا کيږي ❀ تلاوت کوونکے د **اللّٰه** پاك په بارګاه کښې لوئ مقام حاصلوي. دا هم معلومه شوه چې په قرآنِ کريم باندې ځان پوهه کول هم ضروري دي چې بنده په قرآنِ کريم ځان پوهه نه کړي نو عمل به پرې څنګه کوي ❀ البته که انسان پرې نه پوهيږي او بيا هم د قرآنِ کريم تلاوت کوي، دا هم د لوئ فضيلت خبره ده، د دې سره هم زړه روښانه کيږي او د **اللّٰه** پاك مينه نصيب کيږي.

## د يو عاشِقِ قرآن د قبر حال

يوه ډيره قابِلِ رَشک واقعه بيانيږي چې چرته يو کس وفات شو، خلقو د هغه د کفن دفن کولو انتِظام شروع کړو، د قبر کنستلو سره ناڅاپه خواته بل قبر پريوتو او قبر د سر طرف نه سورے شو، هلته موجودو خلقو د قبر دننه دا اِيمان تازه کوونکې واقعه په خپلو سترګو اوليدله چې په قبر کښې مړے بالکل صحيح سلامت پروت دے او د

1 ...اِحْيَاءُالعُلوم مترجم، جلد:1، صفحه:826۔

هغه د مخ د پاسه د ونې يوه څانګه ده، چې د هغې نه څاڅکي کيږي او په قبر کېښې خوشبوئي خوره ده. خلقو هغه مړے اوپيژندلو، د خپل عزيز دفن کولو نه پس خلق د هغه کور ته لاړل، د هغه کونډه بي بي چې اوس بوډۍ وه، د هغې نه ئې تپوس اوکړو: ستا خاوند به کوم نيك عمل کولو، چې د هغې په برکت د هغه د قبر نه خوشبوئي راځي؟ بوډۍ زنانه اووئيل: زما خاوند ليکل لوستل نه وو زده کړی، هغه به د عامو خلقو په شان لمُونځ کولو او روژے به ئې نيولې، مزدور سړے وو، هغه قرآنِ کريم نه شو لوستلے خو د قرآنِ کريم سره ئې مينه کوله، د هغه زړه غوښتل چې قرآنِ کريم زده کړي او تلاوت اوکړي. په دې شوق به ئې قرآنِ مجيد بيرته کولو او په هره کرښه به ئې ګوته راښکله او وئيل به ئې: يا **الله** پاکه! ما له لوستل نه راځي خو تا چې څه فرمائيلي دي، بالکل دې رښتيا فرمائيلي دي، بيا به ئې په بله کرښه ګوته راښکله او وئيل به ئې: مولٰــی! تا دا هم رښتيا فرمائيلي دي، الٰـهي! دا دِ هم رښتيا ليکلي دي. په داسې کولو کولو به ئې پوره قرآنِ کريم ختمولو. بس هُم دا يو خاص عمل ئې وو، کيدے شي چې د دې په برکت د هغه قبر خوشبوداره وي.

سُبۡحٰنَ الـلّٰه! اے عاشِقانِ رسول! تاسو د شوقِ تلاوت برکت اوليدو! قرآنِ مجيد واقعي وفادار دے، څوك چې د قرآنِ کريم سره پوره تَعَلُّق قائم ساتي، قرآنِ کريم هغه کله هم نه محرومه کوي، دا هُم ياد ساتئ چې د **الله** پاك رحمت بهانے لټوي، **الله** پاك چې اوغواړي نو په معمولي عمل په بنده ډير ډير رحمتونه نازلوي، هغه سړي قرآن مجيد نه شو لوستلے، د دې باوُجود هغه ته د شوقِ تلاوت برکتونه نصيب شو، دا د **الله** پاك رحمت دے، د دې دا مطلب هيڅ کله نه دے چې اوس دِ مونږه قرآنِ مجيد نه زده کوو، او ناپوهي اختيار کړو، نه . نه....! مونږه به قرآنِ کريم زده کوو، تجويد به هُم زده کوو، صحيح مخارج به هم زده کوو، په قرآنِ کريم به د ځان پوهه کولو کوشش هم کوو او په

شوق او محبت سره به د دې تِلاوت هم كوو. الله پاك دِ مونږ ته قرآنِ كريم سره د پوره تَعَلُّق جوړولو توفيق رانصيب كړي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صلَّى الله عليه واٰله وسلَّم

اے عاشِقانِ رسول! د افسوس خبره ده چې اوس زمونږه حال ډير بدتر دے، كه مونږ لږ په خپل تير شوي وخت سوچ اوكړو چې مونږه د قرآنِ كريم څومره ختمونه كړي دي، مونږه هره ورځ څومره تلاوت كوو؟ نو كيدے شي چې د دې سُوالونو مونږ ته ښه جواب ميلاؤ نه شي، مونږه تلاوت نه كوو، او كه كوو ئې هم نو ډير كم، څو څو ورځې، مياشتې بلكه د ډيرو خلقو خو ډير ډير كلونه هم د تلاوت نه بغير تير شي.

بس هر وخت د دنيا د مال ګټلو په فِكر كښې اخته اوسو ❁ چې كاروبار مو زيات شي ❁ ګټه مو زياته شي ❁ ګاډے راته ميلاؤ شي ❁ بنګلے راته ميلاؤ شي ❁عُهدے راته ميلاؤ شي ❁ اوچت منصب مو نصيب شي ❁ بس دغه فِكرونه مو دي او اوس د پاسه سوشل ميډيا هُم راغله ❁ [بس اوس په دې كښې اخته يُو او] په فيس بُك د پوسټونو كولو شوق ❁ او د سيلفي اخستلو او په سوشل ميډيا باندې د وائرل كولو او لائيك زياتولو په شوق كښې اخته يُو.

## حالّ مُرْتَحِلْ څه ته وائي؟

كاش چې مونږ ته د تلاوت شوق رانصيب شي. حضرت عبدُالله بن عبَّاس رضی الله عنهما فرمائي: يو ځل يو سړے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خدمتِ اقدس كښې حاضر شو او عرض ئې اوكړو: يَا رَسُولَ اللّٰه صَلَّى الله عليهِ واٰلهٖ وسلَّم! غوره عمل كوم يو دے؟ اوئې فرمائيل: په تا باندې لازم دي چې ته حالّ مُرْتَحِلْ (يعني منزل ته د رسيدو سره بيا سفر كوونكے) جوړ شې! هغه عرض اوكړو: يَا رَسُولَ اللّٰه صَلَّى الله عليهِ واٰلهٖ وسلَّم! حالّ مُرْتَحِلْ څه دے؟ اوئې فرمائيل: هغه صاحِبِ قرآن [يعني قرآن لوستونكے] څوك چې

قرآنِ کريم د سر نه لوستل شروع کړي او آخر ته اورسي، چې کله قرآنِ کريم مکمل کړي نو بيا ئې د سر نه شروع کړي، چې کله هُم هغه خپل منزل ته رسي [نو] بيا سفر شروع کوي.[1]

## د تِلاوت د شوقينو واقعات

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! اَلْحَمْدُ لِلّٰه! زمونږه بُزُرګانِ دين د الله پاك بندګان داسې وو چې هغوئې به په صحيح معنو کښې د قرآنِ کريم قدر کولو، شپه او ورځ به ئې ډير ډير تلاوت کولو، يو ځل د قرآنِ کريم مکمل کولو نه پس به ئې بيا شروع کولو او په تلاوت کولو به نه ستړي کيدل.

## د وړومبي خليفه حضرت ابُوبکر صِدِّيق رضی اللہ عنہ شوقِ تلاوت

اَمِيْرُ الْمُؤْمِنِيْن، حضرت ابُوبکر صِدِّيق رضی اللہ عنہ د مسلمانانو وړومبے خليفه دے، ډير د اوچتي درجے صحابي دے، د خوږ آقا صلی اللہ علیہ والہ وسلم يارِ غار هم دے، يارِ مزار هم دے، هغوئې رضی اللہ عنہ چې کله مکه مکرمه کښې وو، لا مدينے مُنَوَّرے ته ئې هجرت نه وو کړے، هغه وخت هغوئې په خپل کور کښې مسجدِ بيت جوړ کړے وو، په هغه ځائے کښې به ئې نفلونه کول او د قُرآنِ کريم تلاوت به ئې کولو، حضرت ابُوبکر صِدِّيق رضی اللہ عنہ ډير نرم زړه والا وو، هغوئې به چې کله تلاوت کولو نو د سترګو نه به ئې د اوښکو باران وريدلو، تر دې پورې چې د هغوئې د تلاوت د آواز په

---

[1] …ترمذی، کتاب القراءت، صفحه:684، حديث:2948۔

اوريدو به مشركان د هغوئي خوا ته راجمع شول او بعضې وخت به د هغوئي د ستركو نه هم اوښكې رواني شوې.[1]

## د حضرت عبدُاللّٰه بِن عُمر رضی اللہ عنہما شوقِ تلاوت

حضرت نافِع رضی اللہ عنہ د حضرت عبدُاللّٰه بِن عُمر رضی اللہ عنہما غلام دے، د هغوئي نه چا پوښتنه اوكړه چې حضرت عبدُاللّٰه بِن عُمر رضی اللہ عنہما به په كور كښې څه كول؟ حضرت نافِع رضی اللہ عنہ ورته اوفرمائيل: حضرت عبدُاللّٰه بِن عُمر رضی اللہ عنہما چې څه كول، د هغې معمول جوړول د عامو خلقو د وَس خبره نه ده. د حضرت عبدُاللّٰه بِن عُمر رضی اللہ عنہما دا معمول وو چې هر لَمانځه ته به ئې تازه اودس كولو او د لمُونځونو تر مينځه وخت به ئې په تِلاوتِ قُرآن كښې تيرولو.[2]

## د حضرت عُمر بِن عبدُالعزيز رحمۃ اللہ علیہ شوقِ تلاوت

حضرت عُمر بِن عبدُالعزيز رحمۃ اللہ علیہ هم د تلاوت شوق لرونكو كښې لوئ مقام لرلو، هغوئي رحمۃ اللہ علیہ د اللّٰه نه ډير ويريدونكي وو، د قُرآنِ كريم تلاوت كولو سره به هغوئي ژړل، خاص طور په كومو آيتونو كښې به چې د قيامت او د آخرت د حساب كتاب ذِكر وو، د هغې د لوستلو سره به د **اللّٰه** پاك د ويرې رپيدلو او كله كله به بے هوشه شولو، يو ځل حضرت عُمر بِن عبدُالعزيز رحمۃ اللہ علیہ د سُورۂ قارعه دا آيتونه اولوستل:

يَوْمَ يَكُوْنُ النَّاسُ كَالْفَرَاشِ الْمَبْثُوْثِ ۙ﴿۴﴾ | [مفهوم] ترجمۂ كَنز العِرفان: په كومه ورځ به

---

[1] ...بخاری، كِتَابُ الْكَفَالَة، بَابُ: جَوَارِ اَبِي بَكْر، صفحه: 591، حديث: 2297۔

[2] ...تاريخ دمشق، جلد: 31، صفحه: 128۔

وَ تَكُوْنُ الْجِبَالُ كَالْعِهْنِ الْمَنْفُوْشِ ﴿۵﴾
(پاره:30،سورۂ قارِعۃ:54)

چې انسانان د خورو شوؤ پتنګانو په شان وي. او غرونه به د رنګارنګ وهلې شوې وړئ په شان شي.

د دې آيتونو په لوستلو حضرت عُمر بِن عبدُالعزيز رحمۃ اللہ علیہ يوه چغه اووهله او بےهوشه شو او په زمكه راپريوتلو.[1] حضرت عُمر بِن عبدُالعزيز رحمۃ اللہ علیہ خپل آخري وخت كښې هم د قرآن تلاوت كولو، د وفات په وخت د هغوئي په ژبه مباركه دا آيت وو:

تِلْكَ الدَّارُ الْاٰخِرَةُ نَجْعَلُهَا لِلَّذِيْنَ لَا يُرِيْدُوْنَ عُلُوًّا فِي الْاَرْضِ وَ لَا فَسَادًا ؕ وَ الْعَاقِبَةُ لِلْمُتَّقِيْنَ ﴿۸۳﴾ (پاره:20،سورۂ قصص:83)

[مَفهُوم] ترجمۂ كنزُالايمان: دا د آخرت كور مونږ د هغه خلقو د پاره جوړوو څوک چې په زمكه كښې تَكَبُّر او فساد نه غواړي او ښه انجام د پرهيزګارانو د پاره دے.

د دې آيتِ كريمه تلاوت كولو سره هغوئي رحمۃ اللہ علیہ د دې دُنيا نه رُخصت شو.[2]

## د اِمامِ اعظم رحمۃ اللہ علیہ شوقِ تلاوت

❁ د كروړاؤ حنفيانو اِمام، اِمامِ اعظم ابُوحنيفه رحمۃ اللہ علیہ د 45 كالو پورې د ماسخوتن په اودس د سحر لمُونځ كړے دے، هغوئي رحمۃ اللہ علیہ به په روژه كښې د قرآنِ كريم 61 ختمونه كول، د قرآن مجيد 30 ختمونه د ورځې، د قرآن مجيد 30 ختمونه د شپے او يو په تراويح كښې.[3] ❁ د يو روايت مطابق اِمامِ اعظم 55حجونه

[1] ...المنتظم فی تاریخ الملوک والامم، جلد:7، صفحه:72۔
[2] ...تاریخ الخلفا، صفحه:157۔
[3] ...بهارِ شريعت، جلد:1، صفحه:695، حصه:4۔

کړي دي ❁ په کوم کور کښې چې هغوئي رحمۃ اللہ علیه وفات شوي وو، په هغه کور کښې ئې 7 زره ځله قرآنِ مجيد ختم کړے وو.[1] اعلٰـى حضرت، اِمامِ اهلِسُنَّت مولانا شاه احمد رضا خان رحمۃ اللہ علیه فرمائي: د اِمام اعظم رحمۃ اللہ علیه د ديرشو کالو نه معمول وو چې هغوئي به هره شپه په يو رکعت کښې پوره قرآنِ پاك ختمولو.[2]

## ټوله شپه به ئې په لمَانځه کښې تلاوت کولو

حضرت سَيِّدُنا اِبنِ ابـي زائد رحمۃ اللہ علیه فرمائي: ما په يواځې ځائے کښې د اِمامِ اعظم رحمۃ اللہ علیه نه د يوې مسئلے پوښتنه کول غوښتل، ما د ماسخُوتن لمُونځ د هغوئي سره په جمات کښې اوکړو، ټول خلق لاړل ، زه د مسئلے د پوښتنې د پاره حصار شوم، اِمام اعظم رحمۃ اللہ علیه ته زما د حصاريدو پته نه وه، هغوئي رحمۃ اللہ علیه اودريدلو او په لمَانځه کښې ئې قُرآن لوستل شروع کړل، ما اِنتِظار کولو چې کله اِمام اعظم رحمۃ اللہ علیه فارغه شي نو زه به ترينه د مسئلے پوښتنه کووم خو اِمام اعظم رحمۃ اللہ علیه پرله پسې تلاوت کولو، چې کله د 27 سيپارے سورۂ طُور دې آيت ته را اورسيدلو:

فَمَنَّ اللّٰهُ عَلَيْنَا وَ وَقٰىنَا عَذَابَ السَّمُوْمِ ﴿۲۷﴾ (پاره:27،سورۂطور: 27)

[مفهوم] ترجمۂ کَنزُ العِرفان: نو اللّٰه په مونږه احسان اوکړو او مونږه ئې د (دوزخ د) سختې تودې هوا د عذاب نه بچ کړو.

نو اِمامِ اعظم رحمۃ اللہ علیه په ژړا شو او بيا بيا ئې هُم دا آيت لوستلو، تر دې چې سحر شو او مُؤَذِّن د سحر اذان اوکړو.[3]

---

1 ...فيضانِ سنّت، صفحه:1095۔
2 ...فتاوٰی رضويه، جلد:7، صفحه:476۔
3 ...حکايتيں اور نصيحتيں، صفحه:335۔

## د اِمامِ بُخاري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيه شوقِ تلاوت

د حدِيثِ پاك لوئ اِمام، اِمام محمد بِن اسماعیل بُخاري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيه به د قرآن د تلاوت سره د عِشق د حده پورې مینه کوله، هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيه به په روژه کښې هره ورځ د قرآنِ کریم یو ختم کولو او د شپے به ئې په نوافِلو کښې په هرو دریو شپو کښې یو ختم کولو.[1]

یوه ورځ اِمام بُخاري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيه لمُونځ کولو، په هغه وخت کښې د شاتو مچۍ هغوئي 17 ځایه اوچیچلو، د لمُونځ پوره کولو نه پس هغوئي اوفرمائیل: لږ اوګورئ څه څیز دے چې ما ته ئې په لمَانځه کښې تکلیف راکولو؟ شاګردانو چې اوکتل نو د هغوئي ملا مبارکه 17 ځایه پړسیدلي وه، اِمام بُخاري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيه د شاتو مچۍ 17 ځایه د چیچلو باوجود د لمُونځ نه ماتولو په حقله اوفرمائیل: ما د یو آیت تلاوت کولو او زما دا خواهش وو چې زه دا آیت پوره کړم.[2]

## د حضرت اسوَد رَحْمَةُ اللهِ عَلَيه شوقِ تلاوت

حضرت اسوَد بِن یَزید رَحْمَةُ اللهِ عَلَيه ډیر عبادت کوونکے وو، هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيه هم د صحابهٔ کرامو رِضْوانُ اللهِ عَلَيهِم صُحبَت حاصل کړے وو، د قُرآن د تلاوت سره ئې ډیره زیاته مینه وه، هغوئی رَحْمَةُ اللهِ عَلَيه به په شپږو ورځو کښې یو ختم کولو، او په روژه کښې به د هغوئي دا مینه نوره هم زیاته شوه، د هغوئي معمول مبارك دا وو چې د مانښام نه پس د ماسخُوتن پورې به ئې آرام کولو، بیا به ئې ټوله شپه د قرآن په تلاوت کښې تیروله،

---

1 ...ہدایۃ السّاری، صفحہ:72خلاصۃً۔
2 ...ہدایۃُ السّارِی، صفحہ:70۔

په هرو دوو شپو كښې به ئې يو ځل ختم كولو، د ژوند په آخرو ورځو كښې هغوئې رَحمَةُ اللهِ عَلَيه سخت بيمار شو، د بيمارئ د سختئ په وجه به ئې ډېره نه شوه بدلولے، د دې باوُجود د هغوئې د قُرآن د تلاوت شوق كم نه شو، هغوئې به خپل وراره حضرت اِبراهيم نخعي رَحمَةُ اللهِ عَلَيه ته ډېره وهله او تلاوت به ئې كولو.[1]

## د حضرت اِمام نافِع رَحمَةُ اللهِ عَلَيه شوقِ تلاوت

حضرت اِمام نافِع مَدَني رَحمَةُ اللهِ عَلَيه د قراءت اِمام دے، هغوئې مخكښې غلام وو، بيا الله پاك هغوئې ته د آزادئ نِعمَت عطا كړو، اِمام نافِع مدَني رَحمَةُ اللهِ عَلَيه د اوياؤ تابعينو نه د قُرآنِ مجيد لوستلو سعادت حاصل كړے دے، بيا ئې ټول ژوند د قُرآنِ مجيد په لوستلو كښې تير كړے دے. په مَسجِدِ نَبَوي كښې ئې د اوياؤ كالو پورې درسِ قُرآن وركولو. كله چې به هغوئې رَحمَةُ اللهِ عَلَيه قُرآنِ مجيد لوستلو نو د خُلې نه به ئې خوشبوئې راتلله، چا ترينه تپوس اوكړو: آيا تاسو خوشبو لګوئ؟ اوئې فرمائيل: نه، زه خوشبو نه لګووم. يو ځل ما ته په خوب كښې د خپل خوږ آقا، محمد مصطفٰى صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ديدار نصيب شو. خوږ خوشبودار آقا صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم زما خُلې ته نِزدې شولو او تلاوت ئې كولو، د هغه ورځې نه زما د خُلې نه خوشبوئې ځي.[2]

## د اِمام ابوبكر رَحمَةُ اللهِ عَلَيه شوقِ تِلاوت

حضرت اِمام اَبُوبكر بِن عَيَّاش رَحمَةُ اللهِ عَلَيه هم د قراءت لوئ اِمام وو، هغوئې خپل ټول ژوند په قرآنِ كريم لوستلو او ښودلو كښې تير كړے دے، د هغوئې رَحمَةُ اللهِ عَلَيه د

---

1 …طبقات الكبرىٰ لابن سعد، جلد:6، صفحه:137و138۔
2 …مَعْرِفَةُ قُرَّاءِ الْكِبَار للذہبی، جلد:1، صفحه:108۔

40 کالو پورې دا معمول وو چې هره ورځ به ئې د قرآنِ کریم یو ختم کولو.[1] د 50 کالو پورې هغوئي له بستره نه وه خوره کړے شوې[2] هره ورځ به ئې د شپې عبادت کولو. چې کله د هغوئي رحمۃ اللہ علیہ د وفات وخت راغے نو د هغوئي خور په ژړا شوه، هغوئي رحمۃ اللہ علیہ اوفرمائیل: ولې ژاړې...؟ بیا ئې د کور یو کُوَټ ته اشاره اوکړه، او اوئې فرمائیل: ما په دغه ځائے کښې اَتَلَّس زره ځله د قرآنِ کریم ختم کړے دے.[3]

## د تِلاوت درې شوق لرونکي

✿ حضرت اِمام کَتّانـي رحمۃ اللہ علیہ ډیر لوئ عالِمِ دِین تیر شوے دے. هغوئي د طواف په دوران کښې 12 زره ځله د قرآنِ کریم ختم کړے دے.[4] ✿ حضرت ابُوبکـر رحمۃ اللہ علیہ د الله یو نیك بُزرګ بنده تیر شوے دے، هغوئی 40 کاله داسې تیر کړي وو چې هره ورځ به ئې د قرآنِ کریم یو ختم کولو.[5] ✿ حضرت محمد بِن کعب قَرظِـي رحمۃ اللہ علیہ د ډیرې اوچتې مرتبے تابعي دے (یعني هغوئي صحابـي لیدلے دے)، هغوئي رحمۃ اللہ علیہ هم د قرآنِ پاک د تلاوت ډیر شوق لرلو، هغوئي به فرمائیل: چې زه ټوله شپه سُورۂ زِلْزَال او سورۂ قَارِعَه داسې لوَلم چې په هغې کښې بیا بیا غور او فِکر کووم [یعني د هغې په معنو او تفسیر ځان پوهه کړم] نو دا خبره ما ته (د پوهیدلو نه بغیر) د پوره قُرآنِ کریم لوستلو نه زیاته خوښه ده.[6]

---

1 ...سِیَرَ اَعْلَامُ النُّبَلا، جلد:7، صفحه:686۔
2 ...سِیَرَ اَعْلَامُ النُّبَلا، جلد:7، صفحه:683۔
3 ...سِیَرَ اَعْلَامُ النُّبَلا، جلد:7، صفحه:686ملتقطاً۔
4 ...سِیَرَ اَعْلَامُ النُّبَلا، جلد:11، صفحه:469۔
5 ...سِیَرَ اَعْلَامُ النُّبَلا، جلد:7، صفحه:686۔
6 ...حلیة الاولیا، جلد:3، صفحه:249، رقم:3848۔

# د تِلاوت شوقین شهزاده

د گجرات یو مشهور بادشاه **سُلطان محمود اوَّل** تیر شوے دے، په نهمه صدئ هجرئ کښې هغوئي په گجرات حکومت کړے وو، یو ځل د شپې ویشتمې روژے شپه وه، سُلطان محمود اوَّل د عُلمائے کرامو په خدمت کښې حاضر وو او د قرآن د تلاوت فضائل بیانیدل، یو عالِم صاحب اوفرمائیل: د قیامت په ورځ به لمَر رانِزدې شي، ټول خلق به په غم کښې اخته شي خو خوک چې د قرآنِ مجید حافِظ وي، هغه او د هغه مور او پلار به د نُور د رحمت په سَوري کښې وي، په هغوئي به د لمَر تاؤ اثر نه کوي، سُلطان محمود اوَّل چې دا واوریدل نو یو سوړ اسویلے ئې اوکړو او اوئې وئیل: افسوس! زما په ځامنو کښې یو هم حافِظِ قرآن نشته، ځکه به زه دا سعادت حاصل نه کړے شم۔

په دغه مجلس کښې د سُلطان محمود اوَّل ځوئ خلیل خان هم ناست وو، د اختر نه پس خلیل خان بل ښار ته لاړو او قرآنِ کریم حفظ کول ئې شروع کړو، خلیل خان به شپه ورځ محنت کولو، د قرآنِ کریم ډیر ډیر تلاوت به ئې کولو او په ډیر محنت سره ئې قرآنِ کریم حِفظ کولو، تردې پورې چې په سترگو کښې سور والے راغے، ډاکټر اووئیل چې د شپے بیدار اوسیدلو او د زیات تلاوت کولو په وجه ستاسو په سترگو کښې سور والے راغلے دے، ځکه یو څو ورځې آرام اوکړئ. خلیل خان په جواب کښې اووئیل چې سترگې مې سرې شوې دي نو څه اوشو، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيْم! دا سور والے به په دُنیا او آخرت کښې د کامیابئ ذریعه جوړ شي، زه په خپل سبق یادولو کښې کمے نه شم راوستلے. آخر د یو کال خوارئ نه پس خلیل خان حافِظِ قرآن جوړ شو او په راتلونکي کال د خپل پلار محترم سُلطان محمود اوَّل خوا ته راغلو او اوئې وئیل: دا کال به روژه کښې د تراویح اِمامت زه کووم. سُلطان ترینه په حیرانتیا سره تپوس

اوکړو: ته د کله نه حافظ جوړ شوے ئې؟ خليل خان خپل پلار محترم ته هغه واقعه او د عالِـمانو هغه بيانونه ور ياد کړل او اوئې وئيل: بس د هغه وخت نه ما قرآنِ کريم حفظ کول شروع کړي وو او اوس زه حافظ يم. سُلطان محمود اوَّل خپل قابل بچي ته د تراويح د امامت اجازت ورکړو، خليل خان په اوَّله ورځ په تراويح کښې د پوره قرآنِ مجيد ختم اوکړو، سُلطان وريسې شاته ولاړ وو او اوريدلو ئې، په دويمه ورځ ئې بيا د پوره قرآنِ مجيد ختم اوکړو، سُلطان وريسې شاته ولاړ وو او اوريدلو ئې، په وړومبو شپاړسو شپو کښې په تراويح کښې خليل خان د قرآن مجيد شپاړس ختمونه اوکړل، په شپاړسمه ورځ سُلطان محمود خپل قابل ځوئ خپلې سينے ته راجوخت کړو، په تَندي ئې ښکل کړو او ورته ئې اووئيل: خليل خان! زه ستا شُکريه څنګه ادا کړم چې تا زما د پاره د قيامت په ورځ د لمَر د تاؤ نه د بچ کيدو سامان تيار کړو.

## رشك په چا اوکړو...!

اے عاشِقانِ رسول! غور اوکړئ! دا څومره عظيم خلق وو، هغوئي به د تلاوت څومره شوق لرلو؟ چا به هره ورځ د قرآنِ کريم ختم کولو، چا به په دوو ورځو کښې يو ځل مکمل قرآنِ کريم لوستلو، چا به په خپل ټول ژوند کښې اَتَلَّس زره ځله د قرآنِ کريم ختم کولو سعادت حاصلولو، چا دولس زره ځله قرآنِ کريم لوستلے وو، په هغوئي باندې رشك پکار دے، زمونږ خو حالت داسې جوړ شوے دے چې مونږه په دُنيا دارئ کښې رشك کوو، ❀ چې ګران ګاډے اووينو نو بےاختياره مو د خُلې نه آه! اُوځي، چې څومره ښکلے ګاډے دے...!! کله خو به ئې الله پاك ما له هم راکړي ❀ که د يو عاليشان کور په خوا تيريږو نو بےاختياره مو د خُلې نه آه! اُوځي چې څومره ښکلے عاليشان کور دے ❀ که يو عهده دار اووينو نو رشك پرې کوو ❀ يو امير

مالداره سړے اووينو نو رشك كوو ❁ كه د چا د بينك بيلنس مُتَعَلِّق واورو نو په خُله كښې مو اوبه راشي.

كاش چې مونږ ته د تلاوت په شوق لرونكو باندې رشك راشي. زمونږ خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: رشك صرف په دوو خلقو باندې دے: **(1)** يو هغه، چا چې قرآنِ كريم زده كړے وي او هغه شپه ورځ د هغې تلاوت كوي **(2)** دويم هغه، چا ته چې **الله** پاك مال وركړے وي او هغه ئې شپه ورځ د **الله** پاك په لار كښې خرچ كوي.[1]

## د تِلاوَت شوق پيدا كړئ!

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! مونږ له پكار دي چې په زړه كښې د تلاوت شوق زيات كړو او هره ورځ څه نه څه تلاوت ضرور كوو، كه كيدے شي نو يو څو سورتونه زباني ياد كړئ، وخت په وخت ئې لولئ او په لمونځونو كښې ئې تلاوت كوئ، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيْم! ډير ثوابونه به حاصل كړئ. په حديثِ پاك كښې دي: څوك چې په لَمانځه كښې په ولاړه د قرآنِ مجيد تلاوت كوي د هغه د پاره د هر حرف په بدله كښې 100 نيكئ دي، څوك چې په لَمانځه كښې په ناسته تلاوت كوي د هغه د پاره د هر حرف په بدله كښې 50 نيكئ دي، څوك چې د لَمانځه نه علاوه په اوداسه كښې تلاوت كوي، د هغه د پاره د هر حرف په بدله كښې 25 نيكئ دي او څوك چې بے اودسه (قرآن ته د لاس لګولو نه بغير) تلاوت اوكړي د هغه د پاره د هر حرف په بدله كښې 10 نيكئ دي۔[2]

1 ...مسلم، كتاب صلاة المسافرين، باب: من يقوم بالقرآن، صفحه: 293، حديث: 267۔

2 (اِحْيَاءُ الْعُلُوم مترجم، جلد: 1 صفحه 831)

## قُرآن اوچت والے ورکوي

په يو حديثِ پاك كښې دي: بيشكه قرآنِ مجيد شفاعت كوونكے دے او د ده شفاعت به قبلول كړے شي خوك چې قرآنِ كريم خپل امام جوړ كړي، قرآنِ كريم هغه جَنَّت ته بوځي او خوك چې قرآنِ كريم شا ته پرېږدي، قرآنِ كريم هغه جَهَنَّم ته بوځي.[1]

فقيه ابُو اللَّيث سمرقندي فرمائي: څوک چې د قرآنِ كريم تلاوت كوي، په دې عمل كوي، قرآنِ مجيد به هغه جَنَّت ته اُورَسوي او څوك چې د قرآنِ مجيد سره بے وفائي اوكړي، د دې تلاوت نه كوي، په دې باندې عمل نه كوي نو د قيامت په ورځ به هغه دوزخ طرف ته بوتللے شي.[2]

## خلور څيزونه نااشنا دي

د حضرتِ سَيِّدُنا اَبُو هُرَيره رضی اللہ عنہ نه روايت دے چې د **الله** پاك آخري نبـي، **مُحَمَّدِ عَرَبِی** صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم فرمائي: په دُنيا كښې خلور څيزونه نااشنا دي **(1):** د ظالِم په زړه كښې قُرآن نااشنا دے **(2)** په آبادئ كښې شړ جُمات چې په هغې كښې لـمونځ نه كيږي. **(3)** هغه كور په كوم كښې چې د قرآنِ مجيد تلاوت نه كيږي، هلته قرآنِ مجيد نااشنا دے او **(4)** په بد قوم كښې نيك انسان نااشنا دے.[3]

---

1 ...مصنف ابن ابی شیبه، باب تعلیم القرآن، جلد:3، صفحه:229، حديث:6030۔

2 ...تنبيه الغافلين، صفحه:238۔

3 ...جامع الصغير، صفحه: 357، حديث: 5791۔

اللّٰه! اللّٰه! اے عاشِقانِ رسول! غور اوکړئ! آيا نن زمونږ د اکثرو کورونو دا حالت نه دے؟ چې قرآنِ کريم پکښې موجود دے خو د هغې تلاوت نه کيږي، څو څو ورځې تيرې شي خو څوك ئې نه راخلي چې تلاوت پکښې اوکړي. زمونږ خوږ نبـي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: داسې کور چرته چې قرآنِ کريم موجود دے خو د هغې تلاوت نه کيږي، په هغه کور کښې قُرآن ناآشنا دے. اندازه اوکړئ! که نن مونږه په خپلو کورونو کښې قرآنِ مجيد ناآشنا اوساتو نو صبا په قبر کښې به د قرآنِ مجيد آشنائي څنګه حاصلوو؟ په دې وجه مونږ له پکار دي چې د قرآنِ مجيد راخستلو او د ډير ډير لوستلو خپل عادت جوړ کړو، خپل يو جدول [يعني ټائم ټيبل] جوړ کړئ، د هرې ورځې هدف مقرر کړئ چې زه به هره ورځ دومره تلاوت کووم، بيا په دې هدف باندې په ثابت قدمئ سره عمل کوونکي جوړ شئ، په شروع شروع کښې کيدے شي چې اِستقامت حاصل نه کړے شئ، ممکنه ده چې ستړي والے به محسوس کړئ، که په خپل ځان قابو اوموموئ او نفس مجبوره کړئ او تلاوت شروع کړئ نو اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِيْم! په يو څو ورځو کښې به مو عادت جوړ شي، د قرآنِ مجيد محبت به مو زړه ته کوز شي، په تلاوت کښې به مو زړه اولګي، که مونږه د تلاوتِ قرآن معمول جوړ کړو نو اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِيْم! د زړه زنګ به مو لرې شي، بيا د تلاوت سره سره په قرآنِ مجيد باندې د ځان پوهه کولو شوق به مو هم رابيدار شي، چې کله مونږه په قرآنِ مجيد باندې د ځان پوهه کولو کوشش اوکړو نو اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِيْم! په دې باندې د عمل کولو به مو هم ذِهن جوړ شي، بس شرط دا دے چې مونږه باقاعده په اهتمام سره، د آدابِ تلاوت د لحاظ ساتلو سره تلاوت کوو.

اللّٰه پاك دِ د عمل کولو توفيق راعطا کړي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار مدرسةُ المَدينه (د اسلامي ورونړو د پاره)

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! د قرآنِ کريم د تلاوت شوق حاصلولو، په قرآنِ مجيد باندې د ځان پوهه کولو، او عمل کولو جذبه موندلو د پاره د عاشقانِ رسول ديني تحريك دعوتِ اسلامي ديني ماحول سره وابسته شئ او 12 ديني کارونو کښې د زړه په اِخلاص حِصَّه واخلئ، اِنۡ شَآءَ اللهُ الۡکَرِيۡم! د دِين و دُنيا بيشميره برکتونه به حاصل کړئ. **ياد ساتئ!** د ذِيلي حلقے په دولسو ديني کارونو کښې يو د هرې ورځې ديني کار "**مدرسةُ المَدينه**" **بالغان** هُم ده.

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه! مُبَلِّغينِ **دعوتِ اسلامي** په جُماتونو، مارکيټونو، کالجونو وغيره کښې ځائے او وخت مقرر کړي او هلته د لوئ عُمر اسلامي ورونړو ته د صحيح تجويد او قراءَت سره د قرآنِ مجيد د تعليم ورکولو سعادت حاصلوي- تاسو هُم کوشش اوکړئ او مَدرَسةُ الۡمَدينه بالغان کښې د شرکت کولو سعادت حاصل کړئ! اِنۡ شَآءَ اللهُ الۡکَرِيۡم! د دې به بےشميره بَرَکتونه درنصيب شي. راځئ چې د ترغيب د پاره يو مَدَني سپرلے واورو:

## په کور کښې مدَني اِنقِلاب

د دُنيا پور (ضلع لودهراں، پنجاب، پاکستان) د يو اسلامي ورور د بيان خُلاصه ده چې د دعوتِ اسلامي ديني ماحول ته د راتلو نه مخکښې زما عملي حالت ډير زيات افسوس ناك وو، د لمُونځونو، روژو به مې څه پرواه نه کوله، د فحاشئ او بدنظرئ ډير شوقين ووم او د ديني معلوماتو نه بالکل بےخبره ووم. زمونږ د کور ټول خلق د فلمونو، ډرامو کتلو ډير زيات شوقين وو. زما د تِيارو نه ډك ژوند کښې د نيکو سحر هغه وخت را اوختلو چې کله مونږه په خانيوال ښار کښې اوسيدلو، يوه ورځ د دعوتِ اسلامي سره وابسته يو اسلامي ورور په ما باندې انفِرادي کوشش اوکړو او ما ته ئې په

**مدرسةُ المَدينه بالغان** کښې د تجويد و قراءت مطابق د قرآنِ مجيد لوستلو ذِهن راکړو کومه چې په جامع مسجد ګلزارِ مدينه لوکو شيډ کښې قائمه وه. د هغوئ په مشوره باندې ما په **مدرسةُ المَدينه بالغان** کښې داخله واخستله او په پابندئ سره به حاضريدم. د هغې په برکت ما د لمَانځه، روژے، اوداسه او غُسل وغيره مسائل زده کړل او د دعوتِ اسلامي ديني ماحول ته نِزدې شوم، په دې دوران کښې ما ته د اَمِيرِ اهلسنّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د رسالو لوستلو په بَرَکت د آخرت د فِکر ذِهن رانصيب شو. چې کله زه پوره پوره د ديني ماحول سره وابسته شوم نو د خپل کور په خلقو مې اِنفِرادي کوشش شروع کړو. د **الله** پاك په کرم او د اَمِيرِ اهلسنّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه ورکړے شوو "**په کور کښې د ديني ماحول جوړولو 19 مدني ګلونو**" باندې د عمل کولو په برکت په هغوئي کښې هم اِنقلاب راغلو، د کور ټول خلق د دعوتِ اسلامي ديني ماحول سره وابسته شو. د فلمونو ډرامو سلسله ختمه شوه . ټول د اَمِيرِ اهلسنّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه په ذريعه په سلسلهٔ عالِيه قادِريَّه رَضَوِيَّه کښې داخل شو او عطاري جوړ شو.

## مدنی قاعده موبائل ايپلی کيشن

اے عاشقانِ رَسُول! د عاشقانِ رسول دينی تحريک دعوتِ اسلامی I.T ډيپارټمنټ يو موبائل ايپلی کيشن جاری کړے دے، چې د هغې نوم دے Madani Qaidah (مدنی قاعده) - د دې ايپلی کيشن په ذريعه تاسو د مدنی قاعده لوستلو او د دې د مشق کولو په ذريعه بنيادی تجويد زده کولے شئ- په خپل اسمارټ فون کښې دا ايپلی کيشن انسټال کړئ! ځپله هُم ترينه فائده واخلئ او نورو ته هُم د دې ترغيب ورکړئ-

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!د بيان په آخره کښې د سُنّتو فضيلت او يو څو سُنّتونه او

آداب د بيانولو ثواب حاصلووم. تاجدارِ رِسالت، شَهَنْشاهِ نُبُوَّت صلَّى الله عليهِ والهٖ وسلَّم اِرشاد فرمائي: ”چا چې زما سُنَّتو سره مَحَبَّت اوكړو هغه زما سره مَحَبَّت اوكړو او چا چې زما سره مَحَبَّت اوكړو هغه به جنّت كښې زما سره وي.“(1)

سينہ تيری سُنَّت کا مدينہ بنے آقا جنت ميں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

سِينه مې دِ شي جوړه د سنّتو مدينه خوږه آقا جنّت كښې مې خپل جوړ كړه ګاونډي خوږه آقا

## د نوم ايښودلو سُنَّتونه او آداب 31

دوه فرامينِ مصطفٰى صلَّى الله عليهِ والهٖ وسلَّم: (1) د ښو خلقو په نومونو نومونه كېږدئ.[2] (2) د قيامت په ورځ به تاسو ستاسو او ستاسو د پلارانو په نومونو بللے كيږئ، لِهٰذا خپل ښه نومونه كېږدئ.[3]

اے عاشِقانِ رسول! مفتـي امجد علـي اعظمي رحمۃُ الله عليه فرمائي: ماشوم له ښه نوم كيښودل پكار دي، د ډيرو خلقو داسې نومونه دي چې څه معنٰى ئې نه وي يا ئې بده معنٰى وي، د داسې نومونو ايښودلو نه پرهيز اوكړئ. ❁ د انبيائے كرامو عليهم السّلام او صحابه و تابعينو په نومونو نوم ايښودل بهتر دي، اُمِّيد دے چې د هغوئي بركتونه به د ماشوم سره مل وي ❁ ماشوم كه ژوندے پيدا شي او كه مړ، كه بدن ئې مكمل وي او كه نامكمله وي، بهرحال د هغه نوم به ايښودلے كيږي،❁ په حديثِ پاك كښې دي: د كچه ماشوم نوم كيږدئ چې الله پاك به د هغه په ذريعه ستاسو د عمل تله درنوي ❁

---

1 ...ابنِ عساکر ج۹ ص۳۴۳

2 ...مسند الفردوس، جلد:2، صفحه:58، حديث:2329۔

3 ...ابو داؤد، کتاب الادب، باب:فی تغییر الاسما، صفحه:775، حديث:4948۔

جبريل يا ميکائل وغيره نومونه مه کېږدئ ❁ فرمانِ مصطفٰی صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: د فرښتو نومونه مه کېږدئ ❁ يٰسين، طٰه نوم ايښودل منع دي ❁ محمد يٰسين نوم هم مه کېږدئ، آو غلام يٰسين او غلام طٰه نوم ايښودے شئ، ❁ کوم نوم چې بد وي هغه بدل کړئ او ښه نوم کيږدئ چې د خپل اُمَّت سره محبت کوونکي آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم بد نومونه په ښو نومونو سره بدل کړي دي. د يوے زنانه نوم عاصِيَه (يعني گنهگاره) وو، رَسُولِ کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د هغې نوم بدل کړو او جَمِيلَه ئې کيښودو. ❁ داسې نومونه ايښودل جائز نه دي کوم چې د غير مسلمو سره خاص وي❁ غلام رسول، غلام صديق، غلام حُسين، غلام غوث، غلام رضا نوم ايښودل جائز دي.[1]

د سُنَّتنو زده کولو د پاره د بهارِ شريعت جلد 3 نه حِصَّه 16 او د شيخِ طريقَت، اَمِيرِ اهلسنّت، حضرتِ علّامه مَولانا محمد الياس عطّار قادِرى دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د 91 صفحو کتاب "550 سُنَّتيں اور آداب" واخلئ او اولولئ ئې.

اللّٰه پاک دِ مونږ ته د عمل کولو توفيق راکړي- اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم-

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❁❁❁ صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

# د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګاني

---

[1] ...550سنتيں اور آداب، صفحه:6863ملتقطاً۔

## ﴿1﴾ د شَبِ جُمعے [يعني د جُمعے د شپے] دُرُود

اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِ نِالنَّبِيِّ الْاُمِّيِّ الْحَبِيْبِ الْعَالِى الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

بُزرګانو فرمائيلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (يعني د جُمعے او زيارت مينځنئ شپه باندې) دا دُرُود شريف پابندئ سره كم ازكم يو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت كښې د سركارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِيدار كوي او قَبْر كښې د داخليدو وخت كښې هُم، تر دې چې سركارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه قَبْر كښې د خپل رَحمت نه ډكو لاسو باندې كوزوي.[1] راځئ چې مونږه هم په شريكه دا دُرُود اووائيو.

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

حضرتِ سيِّدُنا انَس رَضِىَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے چې تاجدارِمدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي كه ولاړ وو نو كښيناستلو نه مخكښې او كه ناست وو نو اودريدلو نه مخكښې به د هغه ګناهونه مُعاف كړے شي. راځئ چې مونږه هم په شريكه دا دُرُود اووائيو.

## ﴿3﴾ د رَحمت اويا دروازے:

صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

---

1 . . . افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة السادسة والخمسون، ص١٥١ ملخصًا

خوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازې بيرته کړے شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿4﴾ د شپږ لاکه دُرُودشريف ثواب

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِيْ عِلْمِ اللّٰهِ صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰهِ

حضرت اَحْمَد صَاوِی رحمۃ اللہ علیہ د بَعضو بُزرګانو نه نَقل کوي: دا دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندې د شپږو لاکو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي.[2] راځئ چې په شريکه ئې اُووائيو.

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صلی اللہ علیہ والہ وسلم

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَتَرْضٰى لَهٗ

يوه ورځ يو کس راغلو نو حُضُورِ اَنور صلی اللہ علیہ والہ وسلم هغه د خپل ځان او صِدّيقِ اکبر رضی اللہ عنہ تر مينځه کښينولو، په دې باندې صَحابَهٔ کرام رضی اللہ عنہم حيران شو چې دا خوك ذِی مَرتبه [يعني اوچتې مرتبې والا] دے! چې کله هغه لاړو نو سرکار صلی اللہ علیہ والہ وسلم اوفرمائيل: دے چې کله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسې ئې لوَلي.[3] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

---

1 ... القول البديع، الباب الثانی، ص۲۷۷

2 ... افضل الصلوات علی سيد السادات، الصلاة الثانية والخمسون، ص۱۴۹

3 ... القول البديع، الباب الاول، ص۱۲۵

## اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

د شفِيعِ اُمَّت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شريف اولوَلي، د هغه د پاره زما شفاعت واجب شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريكه اووائيو.

### ﴿1﴾ د يو زر ورځو نيكئ:

## جَزَى اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رَضِیَ اللهُ عَنْهُمَا نه رِوايت دے چې سركارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د دې د لوستونكي د پاره فرښتے يو زر ورځو پورې نيكئ ليكي.[2] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريكه اووائيو.

### ﴿2﴾ داسې ده لكه شبِ قدر ئې چې حاصل كړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لكه هغه چې شَبِ قَدر حاصل كړو.[3] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شريكه اووائيو.

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❁❁❁ صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

---

1... الترغيب والترهيب، كتاب الذكر و الدعاء، ۲/۳۲۹، حديث:۳۰

2... مجمع الزوائد، كتاب الادعية، باب فى كيفية الصلاة... الخ، ۱۰/۲۵۴، حديث:۱۷۳۰۵

3... تاريخ ابنِ عساكر، ۱۹/۱۵۵، حديث:۴۴۱۵